د ښوونکو توپاني اعتصاب، د لاس پوڅو ستراتژيک تعهد ولړزوه

امريکا او نور امپرياليستي هيوادونه چې اوس په افغانستان کې پراخ پوځي، سياسي، فرهنګي او اقتصادي حضور لري په دې لټه کې دي چې زمونږ د مستعمره هيواد ټولې زيرمې تر وروستي ځاځکي پورې وزبيښي او زمونږ د ناکامه ولس پر ټولو شتمنيو خپله واچوي. همدا لامل دې چې په بې ساري ډول د ګوتو په شمير کمپرادوران او لاس پوڅي سياستوال او فرهنګيان له ټولو نعماتو څخه برخمنيږي خو د ولس غوڅ اکثريت د بې وزلۍ هغه درونده پيټۍ پر اوږو لري چې د ورځې په تيريدو لا پسې درندېږي.

له دوه اونيو را پديخوا د افغانستان ګوټ ګوټ د ښوونکو د پراخو اعتصابونو شاهد دی. دا اعتصابونه له کابل نه پيل او د هيواد ټولو څنډو ته يې پراختيا وموندە چې په سلګونو قهرجنو ښوونکو په کې برخه واخيسته. ښوونکي چې د مخکښ صنف په توګه په اکثرو انقلابي او ولسي خوځښتونو او غورځنګونو کې تاکنده ونډه لري، يو وار بيا يې د زده کونکو په مرسته د ګوډاګي رژيم او بادارانو تر پښو لاندې ځمکه ولړزوله. په داسې حال کې چې افغانستان ځانله د غوايي مياشتې په ترڅ کې د ۳۵ په سلو کې پرسوب او تورم ترخه تجربه له سره تيره کړه او د يوې بوجې وړو بيه ۲۷۰۰ افغانيو ته ورسيده، ښوونکي بايد د ۳۵۰۰ مياشتنۍ تنخوا سره د ژوند ټولې اړتياوې پوره کړي. حتی دا تنخوا هم د مياشتو مياشتو ځنډ سره تاديه کيږي. که څه هم دا خويمه مياشت ده چې د ښوونکو د تنخواګانو د لوړيدو ژمنه شوی خو هيڅ عملي ګام په دې تړاو پورته شوی نه دی.

د حبيبيې ليسې ښوونکي د دې ټولو واقعيتونو له امله تيره اونۍ د خپلو زده کونکو په پراخ ملاتړ واټونو ته راووتل او خپله صنفي او سياسي آګاهي يې ثابته کړه. دا اعتراضونه او اعتصابونه د پوليس د اوسپنيز موټي غبرګون سره مخ شول چې د ښوونکو او زده کونکو د لا زيات قهر لامل وګرځيد او د لاريون په ترڅ کې د پوليس د پنځه جيپونو په ګډون پنځه څلويښت موټرو ته اور ورته شو. د دې کار په سبا امنتيانو د دې ليسې او کابل ښار نورو ليسو يو شمير استادان توقيف کړل او د تل په شان يې د ناچارۍ له مخې دا صنفي حرکت بلواګري وبلله او ښوونکي "مجرمان".

سره له دې چې د هيواد پر پوهنې د سلګونو مليونو ډالرو د لګښت ادعا کيږي خو ښوونکي د تل په څير د بې وزلۍ ورځې شپې سبا کوي او د هيواد اتيا په سلو کې ښوونځي نه ودانۍ لري، نه چوکۍ او حتی ځينې يې اصلاً ښوونکي نه لري. دا ټول په داسې حال کې دي چې تل د پوهنې د معيار او کيفيت د لوړيدو ادعا کيږي. چې دا واقعيت د رژيم او بهرنيو ملاتړو په منځ کې د پراخ مالي فساد يوه څرګنده بيلګه جوتوي.

د ښوونکو دا صنفي او سياسي حرکت په داسې حال کې ترسره کيږي چې ګوډاګي دولت له متحدو ايالتونو سره د تير ستراتژيک ټرون دويم سند لاسليک کړ او د ګندمک د ننګين ټرون ياد يې راتازه کړ. د "همکاريو" دا سند چې تيره اونۍ په واشنګټن کې لاسليک شو، ژمنه کوي چې د افغانستان سره مرستې به تر هغه دوام ولري

چې په خپلو پښو ودریږي او مدني ټولنې یې پیاوړي شي. خو د ټرون ټول شرایط دا په ګوته کوي چې د سند له لارې د افغانستان پر غاړه د غلامۍ کړۍ لا راتنګه کیږي ځکه چې د ټولو نورو ټرونونو په شان دا سند هم د متحدو ایالتونو امپریالیزم ته دا حق ورکوي چې سرتیري یې د اوږد مهاله پوځي عملیاتو په ترڅ کې د "عمل له آزادۍ" څخه برخمن وي. دې سره جوخت پنټاګون تصمیم نیولی چې په بګرام هوایي اډې کې د افغان زندانیانو لپاره د شپیته ملیون ډالرو په لګښت او د اتیا جریب ځمکې په پراختیا نوې زندان جوړ کړي. د دې سند سره سم مدنې ټولنې او د افغانستان نیواک یوازې او یوازې زمونږ د ولس د ځپلو او ټکولو په موخه دي او په حقیقت کې ثابتوي چې بل ابوغریب په لاره کې دې.

نو بې دلیله نه دی چې د امپریالیزم حضور او د ګوډاګي رژیم سمبولیک موجودیت د ولس او په ځانګړي ډول د ښوونکو په څیر د مخکښه اصنافو د پیاوړي غبرګون او مقاومت سره مخ کیږي.

که څه هم چې صنفي حرکتونه د انقلابي اندونو په پالنه کې مهمه ونډه لري، خو تر څو چې امپریالیزم او د هغه لاس پوځي، د امپریالیزم ضد انقلاب له لارې و نه پرځول شي، ښوونکي او ټول قشرونه او زیارکښه طبقې به هیڅکله هم انساني ژوند، سوکالي او رښتونې هوساینې ته و نه رسیږي.

مرګ پر امپریالیزم!

مخ په وړاندې د سوسیالیزم په لور!

د افغانستان انقلابي سازمان

د غوایي ۲۷ مه ۱۳۸۷